AFGHAN GERMAN ONLINE

افغان جرمن آنلاین

http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

عبدالرحمن فرقاني

۲۰۰۹/۹/۱۱

# د سپتمبر ۱۱ اتمه کالیزه

دستمبر ۱۱ په هكله په نړيوالو مطبوعاتو كي ګڼ شمير كتابونه څيړني تحليلونه اونظرونه خپاره شوي دي, خو دا ټول خپاره شوي تحليلونه او څيړني دستمبر د ۱۱ پيښه معما ته اوهغه پوښتني ته په روښانه او سمه توګه ځواب نشي ويلي چه په هر بېدار كي يي هر انسان شپه او ورځ مطرحوی هغه دا چه ددی نړونكی پيشي تر شا څوك ولاړ وو؟
آيا ددی پيښي تر شا د بن لادن تروريسته او سختدرځه ډله او دده هغه ترهګره او سختدريځه تګلاره چه په اسلامي نړي كي سختدريځه ډلي تغذيه كوي ولاره وه ؟ او كه ددي پيښی تر شا د صهيونزم پاځون ولاړ وا اوغوښتل يي چه د اسلامي نړي كيښتي له لوديځ نه وړاندي سوري كړي؟ كه څوك د يهودانو خباثت او د امريكا ويره له دوي څخه نه مني نو كولي شي د امريكا د پخواني جمهور رئيس روزولټ وصيت نامه چه د امريكا ملت ته يي ددوي په هكله كړي وه، چه د يهودانو په يستلويي له امريكا څخه ټينګار كاوه ولولي ( ترڅو د امريكايانو اولادونه د دوي غلامان ونه ګرځي له كه چه روزولټ وايي )
لاتر اوسه د دی پيښي په هكله مختلف نظرونه شتون لري او لاتر اوسه هغه پوښتني ته ځواب ويل دير ګران كار دي، د پيلوټانو په اند د قاعدي ډله د داسي دقيق كار څخه ناتوانه ده ځكه چه د دا راز طياري مسار ته په دومره وړه فاصله كي تغير وركول له دومره جرات او زړورتيا سره څناځه د۲۵۰۰ تر۳۰۰۰ ګړيو پوري پرلپسي ټوګه تمرين او ممارست ته په ورته طياره باندي اړتيا لري، چه دا ځانګړتيا د بن لادن په پلويانو كه نشو مونډلي، او د عمارت جوړونكي انجينران هم د همدغه منطق په اساس په دي هكله نظر وركوي، خو سياست پوهان له د لوبه څخه لومړني ګټه پورتكونكي د صهونيت پاځون په ګوته كوي سره لدي چه په پټه توګه په دي لوبه كي شتون لري، او اقتصادي كارپوهان په دي نظر دي چه امريكا په خپله دا كرغيړنه هڅه كړي ترڅو د هغه اقتصادي بحران څخه ځان وژغوري چه ورسره لاس ګريوان شوي دي او په دي پلمه د تيلو ځاګانو ته ځان ورسوي .
خو ترهګرو ډلو غوښتل چه په دی راز هڅه جګړه د دښمن كور ته وروليي چه ديری غربي څيړونكو د دي رايی پخلي كړي او په دي هكله دلايل وړاندي كوي چه په دهكله د لورنس رايت امريكايي ليكوال په كتاب كي دير څه مونډلي شوو، او په دهكله دلايل وړاندي كوي چه ګواكي القاعده ددي كار مسوله ده .
يو شمير سياست پوهان په دی اند دي چه يهودانو او سختدريځو ډلو په مشترك ډول دا كار سرته رسولي دي او يهودانو و په كي مركزي رول لوبولي دي او ددي پيښي په سرته كيدو له وړاندي خبر وو او نور دا راز اټكلونه .......... په دی هكله شته، په هره توګه تاريخ مسؤول دي چه دا پيښه سره له ټولو حقايقو او اسرارو رابرسيره كړي هر چه به د تاريخ په اوږدو كي په ډاګه شي ، خوڅه چه موږ ته د ۱۱ستمبرد پيښي په هكله اوس مهال د اهميت وړدي هغه دا دي چه دا پيښه د تحول ټكي او يوه مهمه او راوييښونكي پيښه وه چه د دوومختلفو عهدونو په منځ كي يو ستر بدلون ګڼل كيږي چه ستر زيان له د بيښي څخه اسلامي نړي ته متوجه شوي او په خاصه توګه هغه مسلمانانو ته چه په لوديځ كي استوګنه لري ، كه غواړو چه د دي پيښي په هكله دير له واقعت او انصاف څخه ليري نه وو نو په كار ده چه د پيښي د پايلي په هكله فكر وكړو نه دپيښي په هكله او د هغه اتهاماتو په وړاندي سمه او پياوړي تګلاره ولرو چه اسلامي نړي ته متوجه شوی دي په تاسف سره ديري دموږ د دي پيښي په هكله سمه تګلاره نه خپلوي او هغه اتهاماتو ته په سمه توګه ځواب نه وايي چه اسلامي نړي او په تيره اسلا م ورڅخه پاك دي ، د وخت په تيردو سره سختدريخو ډلو د موږ په ټولنه كي ځاي مونډلي وا او تر اوسه هم شتون لري او زموږ ټولني يي له هر مرج سره مخ كړي دي ، خو سره لدي موږ دلوديځ تهمتونوته هم غاړه ايښي ده او ناكامي مو د لوديځ په وړاندي منلي ده ، موږ ته پكارده تر څو خپله ټولنه كي د اسلامي ارزښتونو په اساس بدلون راولو. پاي

له عربي ورځپاني څخه ژباره شوی



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.